مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنګروال ۲۰۲۴/۰۴/۲۲

ښکلا پوهنه

ولسي، استوروي او پلکلوریک هنر کې

د ښکلا توکي

۵ څپرکی

دطبعي ښکلا له مخې ، لکه له نامه چې ښکاري ولسي اوپلکوریک هنر د یوه هېواد د خلکو یو شتمن فرهنګ دی، چې د استعارو، کنایو، سمبولونو، تخیل، انځورونو، احساس، اغراق، غلو او د «فانتاستیکي» توکو له لارې بیانیږی او تر ډېره بریده یې ویناوال نا څرګند وي، سینه په سینه، خوله په خوله د روایتونو له مخې له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدول کېږي.
د ولسي اوپلکلوریک هنر ، نوښت او پا یښت د طبعي ښکلا له مخې په دې کې دی چې تر ډېره بریده د نا لوستو کسا نو له خوا رامینځته شویدی.
پلکوریک هنر، لکه پخپله د هنر د پیدایښت په څېر دغه هنر هم د انسان له پیدایښت سره راپیل شویدی، چې په هره ټولنه کې د ښې او مینځپانګی، د رنګ او خوند، څومره والي او څرنګوالي له مخې توپېر لري.
د نړۍ په ټولو ژبو کې ولسي هنر او ادب خپلې ریښې ځغلولې دي. له حضرت عیسی (ع) نه لږ تر لږه زر (۱۰۰۰) کاله مشر هومر د نړۍ د هنر او ادب په تاریخ کې هغه ستر شاعر تېر شویدي، چې د نړۍ خلک یې د هنر او ادب اسمان بولي.
ولې بیا هم د دغه ځلیدونکي، ادبي او هنري ستوري رڼا لا تته ده چې په تیارو او خړو وربځو کې ساه باسي، د زوکړې ځای او نېټه یې تر ډېره بریده نامعلومه ده.
«د دغه وخت د ادب او هنر تاریخ نه دی کښل شوی او که لیکل شوی وی د هومر او ډیسي hemer odyssoy په څېر به یې د ډېروادبي او هنري اثارو اوددادول اثاروپنځوونکي څېرې به یې له سپېرو اېرو نه راښکودې وی.»[1]
دا چې له نن نه درې زره کاله دمخه هومر اودیسي د «ایلیاد» او «اود نیسه» په څېر دوه ښکلي منظوم اثارکښلي دي، چې د نړۍ په تاریخ کې دوه لوی ادبي او هنري اثار ګڼل کېږي، ولې ښايي چې له دېنه ډېر پخوا د یونان په خاوره کې ، داسې ولسي او پلکوریکواثارولا پخوا هم خپلې وزرې پرانستې وي، چې ځنې به د توپان ناخوالو خوړلې وي او ځنې ښايي اوس هم د یونان د خلکو په سینو کې وي ، خوبیا هم تر ډېره بریده به یې طبعي ښکلاتته وي .
په لرغوني افغانستان کې هم، د هندو اروپايي ژبو په لړ کې لکه یوناني، لاتیني او سانسګرت ترمینځ د پرتلیزې ژبپوهنې له مخې چې د ویېپوهنې په رڼا کې د لغتونو او وېپونو کوم نږدې والی او ورته والی موندلی شوی، له دې څخه څرګندېږي چې یو وخت د سینسګرت، اوستا، (زند)، یوناني، لاتیني، سلاوي او د یو شمېر نورو ژبو ویوونکو به خامخا یو ځای ژوند کاوه .
نوپرهمدې بنسټ ، ویدي سنسګرت، اوستا او یا زند، چې د افغانستان لرغوني ژبې وې، د یوناني سکندر د برید په مهال په افغانستان کې د یو شمېر ولسي هنر او ادب بېلګې تر سترګو شوې وې.
د مثال په ډول، هغه مهال چې د سکندر ځواکونه باختر ته ورسېدل، په لرغوني افغانستان کې یوه لرغوني له مینې ډکه ولسي کیسه چې دښکلا انګا زې خوله په خوله د خلکو په مینځ کې وېل کېده، هغه د «زریادریس» او «اوداتیس» پلکوریکه هنري کیسه وه، چې د سکندر یوه نږدی ملګري د تشریفاتو ریس «خارس» هغې ته اشاره کړېده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا چې د دغې کیسې دښکلاانګازې د «خارس» تر غوږو رسېدلې وې، خو هرومرو یې ډېر هنري ارزښت درلود، چې لنډیز یې داسې دی:
په اریایي سرودونو کی ډېرې داسې کېسې، چې په ویدي او اوستایي سرودونو کې تر سترګو شوي دي یوه هم د «زریادریس» او «اودرتیس» کیسه ده، چې د سکندر تشریفاتو ریس «خارس مي تي لن» له څلورمې مخزیږدي پېړۍ نه زموږ غوږو ته رارسولې ده .
ولې دغه کیسه په ویدي سرودونو کې هم راغلې ده چې د «ګومل» په سیمه کې یادونه شوې او په اوستا کې د «زریران» په بڼه، چې د «یاتکار زریران» حماسي منظومه ده کښل شو ې ده .
دغه متن په پهلوی اشکاني هنري ادبیاتو کې هم شتون لري، چې «دقیقی بلخي» د هغه مهال له خاطرې ډکه حماسي کیسه پخپلو شعرونو کې راغبرګه کړېده.
خارس کاږي، چې زریادریس یو ښکلی ځوان وه او «اوداتیس» یوه ښکلې پېغله او دغه ښایسته نجلۍ د «ساس» پاچا لور وه. ښکلی ځوان او ښکلی جلۍ په خوب کې یو په بل مین شوي وو. یوناني خارس لیکلي دي، چې دغې کیسې په ټولې اسیا کې انګازې کړې وې.
ساس د اسکایانو څخه یو سلطنتي کورنۍ وه او یو مهال د افغانستان په لرغوني تاریخ کې ساکان د یوې سترې ټولواکمنۍ څښتن ول.
زریادریس د بلخ شهزاده وه او «اوداتیس» د باختر شهزادګۍ، نو ځکه خو دواړو دومره شهرت موندلی وو، چې ان د دوئ عشقي داستان د یونانیانو غوږو ته لاره وکړه.
همدا راز ویدي او اوستایي سرودونو کې هم یو شمېر ولسي او پلکوریکې کیسې راغلې دي. د امورود په غاړه په لرغوني بلخ کې د بلهیکا یا بخدي دوه ښارونه ودان وه او د هغه مهال خلکو یو ښکلی معبد د «آناهیتا» یا «ناهید» پنوم ودان کړی و او د کوشانیانو (۲۲۰ ز کال) تر پېر پورې د هنري دب دبې څښتن وه.
په دغه وخت کې یو داستان د «سینا» «یا» سینه پنوم چې د «زردشت» معاصر وه، د بلخیانو په مینځ کې نامتو وو او سینا یو سپېڅلی انسان و.
په اوستا کې د «سینا مرغو» یا «مرغوسینا» په بڼه کښل شویدی، چې موخه ترې «سینا» او «مرغو» ده.
په پښتو ژبه کې د «مرغ، مرغان، مرغانو، مرغی» ټولوالوتونکو ته کارول کېږي.
«په «شاهنامه» کې سیمرغ او سام، سیمرغ اوزال.....د سینا کلمه هندوکش ته هم کارول شوېده.....»[2] د سیمرغ کلیمه د هېواد په ډېرو عشقی او حماسي داستانونو کې راغلې ده.
دا روایتونه هم تر سترګو شویدي، چې «سام، نریمان» چې د غور په افسانوي تاریخ کې هم یادونه شوېده، د بخدي او بلهیکا په ښار کې یو نامتو اتل او شهسوار وه، چې د اولاد، د نه شتون له امله اندیښمن وه.
دی به تل د «ناهد معبد» ته د دې لپاره ته چې څښتن تعالی ورته اولاد ورکړي.
دی لا په دوعاګانو بوخت و، چې میرمن یې «دل ارام» له یوې داسې پېښې سره مخ شوه، چې د زېږیدلی اولاد، د سر ویښتان د سپینو زرو او د بدن پوستکی لکه د ارغوان ګل آبي رنګه و ...
ډېرې دا ډول ولسي او پلکوریکې کیسې له لرغوني افغانستان نه راواخله تر راوروسته پورې موجودې دي.
موږ د هندوکش له غره پرته په پامیرونو کې، له سپین غر نه نیولې د سوات تر غرونو او هماغسې تر کېکاسونو پورې بلابلا ولسي کیسې لرو، چې موږ په سوات کې د ادم خان او درخانی، په کېکاس کې د ملوک او بدرۍ جمالې کیسې یادولی شو.
د پښتو ژبې په ولسي او پلکوریک ادب او هنر کې هم داسې بېلګې لرو چې ډېرې هنري کیسې پکې پټې دي، کیسې په لنډیو کې، کیسې په متلونو کې، کیسې په چاربیتو کې او ګڼ نور توکي د ساري په توګه یادولی شو.
د پښتو ادبیاتو په ولسي او هنري ادب کې که موږ یوازې پښتو لنډۍ د بېلګې په توګه راواخلو، دومره ولسي کیسې په لنډیو کې پټې دي، چې د نړۍ په تاریخ کې لږ ساری لري.
«د پښتنو په کلو او باندو کې، په سموڅو او کېږدیو کې، د لنډیو دغه ستره شتمنه خوندي ده. د بېلګې په توګه، سپوږمیه سروهه راخېژه ،
یار مې د کلولو کوي ګوتې رېبینه
د دغې لنډۍ په هکله انګېرنې هغې کیسې ته ګوته نیولې، چې د پسرلي په موسم کې به لرغونو اریایانو د زوخا د جوړولو لپاره د هوما (سوما) بوټی ټولوه او بیا به یې دغه شربت ډېرو خوږو دوستانو او مېلمنو ته ډالۍ کاوه ...»[3]
دا چې موږ وایو افغانستان پنځه زره کلن تاریخ لري، نو دې کې شک نشته چې ادبي او هنري ارزښتونه د هم په دغه خاوره کې نه وي تېر شوي، خو له بده مرغه چې موږ د «هومره» په څېر چې یو تلپاتې اثر یې د نړۍ په تاریخ کې په میراث پرېښی چې «ایلیاد» نومېږي په واک کې نه لرو، که څه داسې انګېرنې شتون لري چې سکندر ځکه او ستا د اور د لمبو خوراک کړ چې د الیاد د ارزښت پیکه نه کړی.
موږ دالیاد په څېریوسترلرغونی کتاب ریګویدا لرو،چې په دې کې دلرغونو ولسي اوپلکلوریکو ادبیاتو یوه لویه اوستره شتمني خوندي ده ،ښه به وي یوه لنډه یادونه یې وکړو .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

،چې دطبعي ښکلا پوهنې له مخې زموږ دلرغونو ادبياتوښې بيلکې شمېرلی شو .

د ويدي شعرونواوپلکلوريکوکيسو،
تاريخي بهيرولې ښکلی دی؟
«د مخزيږدي ۱۴ مې پېړۍ، د ريګويدا لرغونی کتاب کې د افغانستان د رودونو لکه کابل، کرم ګومل، سوات (د کوبهه پنوم)، کرومه، ګومتي، سوواستو يادونه او همدا ډول د افغانستان د يو شمېر قومونو او پېښواوجګړو يادونه هم په ريګويدا کې شوېده ، چې موږ د لسو پاچاهانو جګړه چې پکتيانو (پښتنو)، الينا (د نورستان شمال ختيځ خلک)، بهلا تاسي [د بولان دره]، سواها (اندس ته نږدې) او نورو تر مينځ پېښه شوه يادولی شو.»[4]
ويدي عصر د زرتښتي دين تر راتګه پورې دوام مومي ، چې پدغه موده کې يو شمېر ټولنيزو ارزښتونو ته لاره اواره کړېده او څو بېلګې داسې دي:
۱ـ د ارباب الانواع د ستاينو او لمانځنو لپاره يې منظومې ترانې وکښلې، چې خوله په خوله به لېږدېدلې.
۲ـ داسې شاعران وروزل شول، چې د ويدي سرودونو ارزښتونه يې ماورالنهر وګړو پورې ورسول او دغه سپېڅلی ترانې د افغانستان، هند او د سيمې نورو وګړو ته واورولې.
۳ـ دغه شعرونه داسې نه وو چې يوازې د ولسي او شفايي ادبياتو په تاريخ کې د پام وړ وه بلکې اريايي وګړو ته يې ورپه ګوته کړه چې کرهڼه او لاسي صنعت د ټولنيز ارزښت يو اصل دی.
۴ـ شاعرانو او ناظمانو د ويدي سرودونو د تشريح او تفسير لپاره نوری رسالې هم ورونښلوې لکه:
ـ سمهيتا samhita يا سنهيتا د ويدونو توضيح.
ـ ارنيکايان aranyakas د بېلابېلو متونو ټولګه ده چې په ځنګله کې وکاږل شوه .
ـ اوپانيشادونه upanishada د ويدي تفکر بيان او څېړنه.
۵ـ د امورود دواړو غاړو او په ټوله کې د لومړنيو اريايانو ګډه ژبه اريک نومېده، خو وروسته دوئ بېلابيلی لهجې او ژبې رامينځته کړې، په دوئ کې د ريګويدا، ګاټونوژبې چې يو شمېر ژبپوهان يې دوه بېلې ژبې ګڼي، که څه هم ختيځپوهانو (يو شمېر) د ګاټونو ژبه د ويدي ژبې اوښتې بڼه ګڼي.
۶ـ د کسبونو ايجاد او د هنر ودې او پرمختګ ته پاملرنه او نور د ساري په توګه يادولی شو.
۷ـ ويدي سرودونه د افسانوي او اساتيري تاريخ بڼه هم لري، لکه د يما (جمشيد) يادونه، چې دی يې د مړو رب النوع اود «اوخروي» نړۍ شفاعت کوونکی ګڼل شويدی.
۸ـ په ويدي سرودونو کې د بلهيکا، بلخيکا، بلخيان او دېته د ورته کلمو يادونه ، د اريايانو لېږد، چې له يوې سيمې نه بلې سيمې ته کډه شويدي .
موږ په لرغوني تاريخ کې د اريايانو د ډلو ټپلو يادونه ګورو، لکه د بهاراته پياوړې ډله چې د اندوس (سند) دواړو غاړو ته اباده وه او د ويدي سرودونو وروستۍ برخه يې کښلې ده، چې زموږ د افسانوی او استوروي تاريخ غوښنه برخه جوړوي او له دغې قبيلې سره د «سرنجيا» قبيله هم متحده وه.
۹ـ د لسو پاچايانو په قبيله کې يوه بله ډله او يا ګروپ د «يادو «پنوم يادېده، چې پنځه قبيلې ورسره متحدې وې لکه تور واشا، درهيو، انو، اوپورو او پخپله يادو، چې د دوئ اتحادي ته يې «پنګه جانا» يا د پنځو قبيلو د يووالي ټولنه وېلې.
۱۰ـ د پکتها ګروپ: تر ډېره بريده ختيځپوهانو او يو شمېر څېړونکي دغې ډلې او قبيلې ته د « پختها ،پښتا» ګروپ هم ويلی دي، چې د پنکها په څېر د پنځو قبيلو يووالی په ګوته کوي لکه: شيوا-بهالانا-الينا-ويشانن او پخپله د پکتها قبيله يادولی شو.
په ويدي سرودونو کې د ګڼ شمېرو قبايلو يادونه شوېده، چې اوس د افغانستان په ګډون يو شمېر سيمه ييزو هېوادونو کې نښې نښانې تر سترګو کېږي.
يو شمېر څېړونکي ددغوځانګواو ګروپونو په تړاو داسې ليکلی دي چې «يادو» ګروپ او «پکتها» ګروپ يو تر بله سره د نسل له مخې نږدی او د بهاراته ګروپ څخه نسبتاً لرې وو.
«له بله پلوه په ويدي سرودونو کې «ديادو» ګروپ قبايل د «پارسوا» قبيلې سره نږدې ښودل شويدي، نو له دې څخه داسې ښکاري، چې پښتانه هم او ساک هم د بهارتيانو په نسبت د پارسيانو سره نژدې او خپلوان ول.»[5]
۱۱ـ ريګويدا د يوه لرغوني لاسوند په توګه د هغه مهال د لرغونو ټبرونو د يوې جګړې کيسه، د هغه وخت د يوه رب النوع «اندرا» له خولې داسې کوي، چې خير محمد ساد يې پخپل کتاب کې يادونه کړېده:
«ما ځمکه اريه ته وبخښله او باران د هغو کسانو له پاره دروم، چې ماته نزر راوړي ... د سوما په مستۍ کې مې د شمبري shambara ۹۹ کوټونه وران کړل-سلم کوټ مې هغه وخت وران کړ چې د «دېوداس اتهتکوه» سره مې مرسته کوله....»[6]
دا د بهاراته قبيلې اړوند کيسه وه. دغه قبيله د اباسين رود او د اټک دواړو غاړو ته ودانه وه. د اريايانو د بيلابيلو قبيلو تر مينځ له اباسين نه راواخله د «راوي» رود او سين پورې جګړې کېدلې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دغې سیمې، چېرته چې د بهاراته قبیلې استوګنه درلوده او ددغو سیمو پراخې ورشو ګانې په ولکه کې وې پاچایې «دیوداس» نومېده او د «سوداس» له قبیلې څخه وه.
دا چې «دیوداس اتهتکوه» یاد شویدی، ښایي «دیوداس» له اباسین نه د راوي تر سینده پورې ځمکې د ده په ولکه کې وې او یا په بله اصطلاح ووایو، له اټک نه راواخله تر پنجابه (هفت رود) پورې خاوره د دوئ په واک کې وه.
د «اتهتکوه=اتکوه» کلمه د «اتک=اټک» کلمې سره سر خوري ، ښا یې داسې وانګېرل شي، چې دیوداس دوه پلازمېنې درلودې، چې یوه پلازمېنه یې «برهان» ته څېرمه د «اټک» غاړه وه.
۱۲- موږ دمخه وویل، چې د ویدی په څلورو کتابونو کې ریګوید له ټولو لرغونی کتاب دی او لرغونو اریایانو به دغه سرودونه اسماني الهام او ډالۍ ګڼله.
دریګویدا په ۱۸۵ سرود کې داسمان سپېڅلتیا ته په خطاب کې کښلي دي چې اسما ن موږ له بدي ساتي ... »
د دغو سرودونو تاریخي ارزښت پدې کې دی چې د یو شمېر سیمو، رودونو او غرونو یادونه کوي چې موږ «یوپایي ری سنا» (هندوکش)، سپیتاګوناګېري (سپین غر)، سندهو (سیند)، کو بها (کابل)، کرومو (کرم)، ګندهارا ګوماتي (ګومل)، سراسواتي (ارغنداب)، راسا (کونړ)، سواستو (سوات)، سپیته سندهو (هفت رود) او یو شمېر نور جغرافیوی نوم د ساري په توګه یادولې شو.
باید دا هیر نکړو چې په ریګوید کې د بلخ او باختر نوم نه دی یاد شوی ولې په «اتروید» کې د بلهیکا نوم یاد شویدي.
۱۳- په ټوله کې ویدي سرودونه په دوه برخو وېشل شویدي، چې یوه برخه یې «سروتي» cruti، چې له الهام سره تړاو ورکړ شویدی او بله برخه یې دغه ځانګړتیاوې نه لري.
د «ساکالاکا» د مدرسې پر بنسټ، ریګوید ۱۰۲۸ سرودونه په لسو (۱۰) کتابونو وېشل شویدي، چې د هرې برخې مینځپانګه یې خپلې ځانګړنې لري. لسم کتاب چې د ریګوید وروستی کتاب دی، تر ډېره بریده پکې ادبي سرودونه راغلي دی.
په نهم ټوک د «سوما» سرودونه ګورو، چې د هغه ستاینې ته ځانګړي شویدی، خو په ټوله کې ریګوید، چې په لسګونو کالو په موده کې بشپړ شوېدی او ګڼو شاعرانو پکې برخه اخستې...
د مینځپانګې له مخې دغو توکو ته ځانګړی شوېده :
لکه ادبیات، د خلکو دودونه او کلتوري جشنونه، تاریخ او جغرافیه، د خلکو ټولنیز ژوند او د ټولنیز ژوند د ارزښتونو توضیح او نور.
۱۴- بېلابېلو لرغونپوهانو لکه «دوسن مارتن» ، موسیو واله دوپوسن، ماکس مولر، ادمایر، موسیوونترنیتس winernits او په لسګونو نورو د ریګوید په بېلابېلو اړخونو په بڼې او مینځپانګې څېړګندونې کړیدی.
پدغه لړ کې ادمایر eodmeyer پدې اند دی ،چې د لرغونی ریګوید لرغونې برخه ښایي ۱۵۰۰ م ز په شاوخوا کې کاږل شوې وي او له یو شمېر نورو څېړګندونو ښکاري، چې د ریګوید سرودونه د ۱۵۰۰-۱۰۰۰ م ز، -۲۰۰۰ ۳۰۰۰ م ز شاوخوا ویل شوي وي.

د ریګوید سرودونو څوښکلا ییزې بېلګې
ریګوید د یوه تاریخي لاسوند په توګه، چې د افغانستان په شمول یې د ډېرو هېوادونو، په ځانګړي ډول د اریایي ټبر، ډېر تیاره ګوټونه تر یوه بریده روښانه کړیدي.
د هېواد پدغه استوروي او لرغوني تاریخ کې ډېر څه تر سترګو کېږي لکه، د افغانستان او سیمې یو شمېر تاریخي ډوله پېښې، د هېواد د غرونو او سیندونو یادونه، دودونه او کلتوري ارزښتونه، جګړه ییزې پېښې، مذهبي لمانځنې او نور د ګوتو په شمېر کړه وړه د بېلګې په توګه یادولی شو.
په یو شمېر ویدي سرودونو کې د اریایي قومونو شتون او په بېلابېلو سیمو د دوئ د استوګنو بهیر، دا ښېي، چې د لرغوني تاریخ یو تت انځور پکې پروت دی.
د ساري په توګه یوه سرود کې ګورو، «اې سندهو! ته لومړی خپلې څپې وهونکې او مستې او به د تریشتاما، راسا، سوتی او د کوبها د سیندونو سره ګډوې او بیا پخپل لوري ګوماتي او کرومو راکاږي،»
پدغه سرود کې په څرګند توګه ښکاري، چې د یو شمېر سیمو او سیندونو یادونه شوېده او د دوی لوری او موقعیت تري په ډاګه کېږي .
د پام وړ خبره خو دا ده، چې دغه سرودونه د شعر بڼه لري او خلکو به د ترانو په بڼه له ځان سره لېږدول .په یوه سرود کې، د بلهیکا د نوم یادونه شوېده، چې لرغونپوهانو او یا ریګ وید پېژندونکو، دغه نوم کټ مټ باختر او اوسنی بلخ په ګوته کړیدي.
په یوه بل ویدي سرود کې د «ماروت» یادونه، چې د «باد» رب النوع ده، داسې ستایي: «ایماروته! له اسمان یا د هوا له مینځ یا له نږدې ځایونو څخه را والو زوه ا راشه، له موږ څخه ډېر زرمه ځه، رسا (کونړسین) کرومو (د کرمې سین)، انې تابها، کوبها (د کابل سین) مه پرېږده چې تاوځنډوي یاد «سارایو» مست سپین ستا لاره بنده کړي...»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ریګوید په یوه سرود کې د بومي خلکو سره د یوې جګړې او د اندرا رب النوع له خولې داسې یو تصویر او انځور کاږلی دی:
«ما ځمکه اریه ته وبښله او باران د هغو کسانو له پاره او روم، چې ماته نذر راوړي...!
د سوما په مستی کې مې د شمبرې sham Bara، وو کوټونه (کلاګانې) وران کړل-سلم کوټ می هغه وخت وران کړ چې د «دیوداس اتهتکوه» سره مې مرسته کوله ... »[7]
موږ د اندرا رب النوع یادونه وکړه، چې له «دیوداس اتهتکوه» سره په جګړه کې مرسته وکړه ، د دغو سرودونو په ۲ ټوک ۶۱ «جز او په ۴۶۵ مخ کې راغلي دي، چې د جګړې په توپان کې دغه دوعاګانې یې په ژبه وې، نو ځکه خو یې له «اسونیانو ascins «جنګ وګټه» .
په سرودونو کې د اندرا د نذرونو په تړاو څرګندونې هم شویدي، د ساري په توګه «توروایانا turvayana» چې د څښلو د نذر یو زړه راښکونکی اوازوو، لکه د سیلاب غوندې وبهېد او ځمکه یې وغوړوله او رنګینه یې کړه.»
د ویدي زماني اریایانو د ډول ډول توکو لمانځنه کوله، ولې بیا هم په ټولنیزو او کلتوري چارو کې وررو پرمختګ وکړ، ان تر دې چې نڅا، موسیقی، شعر ویل، اتن یو شمېر دودیزې لوبې او میلې دود شوې. ولسي ادبیات وغوړېدل، حماسي او پلکوریکو شعرونو پراختیا وموندە، نوي تمدن ته لاره اواره شوه ، نو ځکه خو د اریایانو په ژوند کې یو بل پرمختللی څپرکی وغوړید، چې هغه د اوستا اریایي تهذیب او مدنیت وه، چې د ویدي تمدن په لمنه کې وټوکېد او یوه پرمختیایي بهیر ته یې لاره پرانسته.
د اوستا کلتوري بهیر د خلکو په زهن او فکر کې د ویدي ارزښتونو په رڼا کې یو نوی خوځښت او انقلاب رامینځته کړ، چې د هغه وخت یو نوی څپرکی بللی شو.
ریګویدا د برهمنانو کتاب چې په افغانستان کې وکښل شو او بیا په هند کی بشپړ شو. ولې د تورات کتاب چې تقریباً د ریګوید همزولی وه له اوستا نه دمخه په اسرائیلو کې خپور شو.
ویدي سرودونه چې هنري اواخلاقي ښکلا یې درلوده ،اریایي کډوالو دولسي اوپلکلوریک ادب په څېر له ځان سره ولېږدول اوبیا یې راتلونکو نسلونوته په میراپرېښودل ... دهمدې سرودونو په رڼاکې زموږ دهېوادیوبل ګټور اثر،چې هر اړخیزارزښت یې دپام وړ دی،چې په دې کې نه یوازې دولسي ادبیاتو بېلګې خوندي دي ، بلکې تاریخي ، جغرافیوي ، اخلاقي اومذهبي رنګ اوخوند هم لري هغه داوستا سرودونه اوسندري دي .

---

[1]) سنګروال شهسوار، د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲ چاپ دریم مخ
[2]) افغانستان در شاهنامه ۲۷-۲۴ مخونه
[3]) داستاني او هنري ادبیات ۵۸ مخ
لایق سلیمان ګاټونه لومړی مخ
[4]) غبار میر غلام محمد تاریخچه مختصر افغانستان ۹ مخ.
[5]) کاکا خیل ظفر پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۱۱۹ مخ
[6]) گزیده سرود های ریگویدا ۹ مخ. او د لرغوني اریان ۷۴ مخ
[7]) گزیده سرودهای ریگویدا (۹) مخ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ